# هوتکـــیان

د پښتنو د پخوانیو نیکه ګانو څخه یو د بیټني په نامه یادېدی. د بیټني د لور یو زوی د غلجي = غرزي په نوم مشهور وو کوم چي د غلجیو د قوم لوی نیکه دئ.

دغه نوم به د غرزي (په غره کي زېږېدلی) څخه را وتلی وي. د دې قوم یو سړی چي هوتک نومېدی د هوتکو د قوم لومړی نیکه دئ کوم چي په کلات کي اوسېدی. د پټې خزانې د لیکونکي له قوله: ده خواږه پښتو شعرونه ویل. د هوتکو د سلطنت د ستر مشر میرویس خان پلار ښالم خان په اتم پلار نوموړي هوتک ته رسیږي په دې ډول:
ښالم د کرم(۱) زوی، هغه د مند(۲) زوی، هغه د عمر(۳) زوی، هغه د جلال الدین(۴) زوی، هغه د قطب(۵) زوی، هغه د اسحاق(۶) زوی، هغه د حسین(۷) زوی، هغه د ملکیار(۸) زوی او هغه د هوتک زوی.

د هوتکو کورنۍ د ترنک او ارغنداو د رودونو په سرچینو کي محلي حکمرانۍ کولې. د دې کورنۍ د حال شرحه چنداني زموږ لاس ته نه ده راغلې، خو تر میرویس خان د مخه د غلجیو د قومونو حکمراني او ریاست د جلدک څخه تر غزني پوري د سلطان ملخي توخي چي د میرویس خان نیکه وو په لاس کي وو. د میرویس خان پلار ښالم خان د سلطان ملخي د لور نازو سره واده کړی وو او د هغې څخه څلور زامن دنیا ته راغلي وه چي نومونه ئې حاجي میرویس خان، عبدالعزیز خان، عبدالقادر خان او یحیی خان ول. د دوی له جملې څخه میرویس خان د قوم مشري پر غاړه واخیسته او هیواد ئې د بېګانو له لاسه خلاص کړ.


عبدالعلي رسول زاده

Abdul Ali Rasulzada
Malmö Sweden
www.pashto.se
alirasulzada@hotmail.co
0046709384755

# حاجي میرویس خان نیکه

۱۱۲۹ـ ۱۱۲۷هـ ق



حاجي میرویس خان

حاجي میرویس خان نیکه د ښالم خان زوی او په قوم هوتک وو . پلار ئې د هوتکو مشر وو . د پلار تر مرګ وروسته حاجي میرویس خان د قوم مشر توب پر غاړه واخیست . دی د هوتکو له مشرانو څخه یو نومیالی مشر وو . میر ویس خان درې وروڼه درلودل چې نومونه ئې عبدالعزیزخان، عبدالقادر خان او یحیی خان ول . په دوی کې میرویس خان و کولای سوای چې د قوم مشر توب پر غاړه واخلي .





د مخه تر دې چې میرویس خان د قوم مشر توب په لاس کې واخلي د غلجیو د قوم حکمراني او ریاست له جلدک څخه تر غزني پوري د سلطان ملخي توخي په لاس کې وه .

د میرویس خان پلار ښالم خان د سلطان ملخي له لور نازو سره واده کړی وو .

د یوولسمي هجري لمریزي پېړۍ په اخر کې زموږ د هیواد پر غربي څنډو باندي زموږ د ګاونډي هیواد ایران (صفوي دولت چې مشر ئې صفوي شاه حسین وو) له خوا تېری سوی وو . زموږ د هیواد د کندهار په ښار کې د صفوي دولت د لښکرو مشر (ګورګین) حکمراني کوله او د دې ښار پر خلکو ئې ظلمونه کول .



صفوي شاه حسین

ګورګین د ځان سره یو کلک ګرجي ګارډ او ۲۰۰۰۰ کسیز غښتلی لښکر را وستلی وو.

زموږ توریالي پښتون قوم هیڅکله د چا تېری ، د بل تر لاس لاندي والی او ظلم نه دی منلی . د غلیمانو دغه راز لاس اچولو ته ئې په بده سترګه کتلي دي . د ګاونډیانو له دې سلوک څخه ډېر خواشیني سو . اولس سره را ټول سو او ښاغلی حاجي میرویس خان ئې د قوم د مشر په توګه و ټاکی ۱۷۰۹م .

میرویس خان څلور ځله د صفوي شا حسین دربار ته ولاړ چي هلته د ګورګین له لاسه شکایت و کړي او هم ئې غوښتل چي د شاه حسین دربار له نژدې څخه مطالعه کړي. صفوي پاچا میرویس خان ته داسي ویلي ول:

" زه هم له ګورګین څخه بېره (وېره) لرم ، هغه زما خبره هم نه مني".

میرویس خان چي له هغه دربار څخه مایوس سو نو له هغه ځایه حج ته ولاړ. هلته ئې د عربو د دیني عالمانو څخه د صفوي دولت پر ضد د جهاد فتوا (فتوی) واخیسته او بېرته هیواد ته راغی.

په کوکران کي ئې یوه لویه ملي جرګه جوړه کړه او په هغه کي ئې د اصفهان د دربار حال او د عربي عالمانو د فتوا په هکله معلومات ور کړل. له خلکو څخه ئې د ملي یووالي غوښتنه وکړه. هغوی و منله چي د ده سره به د هیواد په ازادي کي د ویني تر اخري ځاڅکي پوري ولاړ وي. هغه وو چي میرویس خان د قوم په مرسته په کندهار کي ګورګین له منځه یووړ د ذیقعدې ۲۹ (۱۱۱۹ هـ ق) او ملت ئې د هغه له جنجاله خلاص کړ.

حاجي میرویس خان خپل ټول ژوند د ملت په پت ساتلو او لوړتیا کي تېر کړ. د هیواد په چارو کي به ئې هر وخت جرګې جوړولې او هیڅ کار به ئې د ملت بې مشورې نه کاوه. حاجي میرویس خان نیکه چي کله قوم په ډېره مېړانه د پردو له لاسه و ژغوری نو و ئې غوښتل چي د هیواد چارې کوم بل مشر ته و سپاري. مګر قوم دا قبوله نه کړه او و ئې غوښتل چي میرویس نیکه د هیواد د پاچا په توګه و ټاکي. میرویس نیکه ونه غوښته چي د پاچا په توګه کار ته دوام ور کړي نو هغه وو چي د قوم د مشر په توګه ئې د قوم خدمت ته دوام ور کړ. میرویس خان په ډېره هوښیاري د غلجیو او ابدالي قومونو تر منځ وروړګلوي او اتفاق ساتلئ وو. د ده مېرمن هم د ابدالي کورنۍ څخه وه.

میرویس خان د ذیحجې پر ۲۸ د (۱۱۲۸ هـ ق - ۱۷۱۵ م) د ۴۱ کالو په عمر له دې جهانه ولاړ او د کندهار په کوکران کي ښخ سو.


د میر ویس نیکه د قبر گنبده

د میرویس خان تر مرگ وروسته د ده مشر ورور عبدالعزیز خان د ده پر ځای کښېنوست. دا سړی د خپل مشر ورور په شان د لوړ همت څښتن نه وو. کله چې ئې اقتدار پیدا کړ نو سمدستي ئې لویه جرگه راټوله کړه او له هغو څخه ئې د صفوي دولت د اطاعت غوښتنه وکړه. ملي جرگې دغه دروند بار قبول نه کړ، خو عبدالعزیز خان بیا هم صفوي دولت ته د اطاعت وړاندیز وکړ چې په هغه کې ئې دري شرطونه لیکلي ول:

۱ـ هغه ججه (باج او خراج) چې د گورگین په وخت کې د افغانانو څخه اخیستل کېده هغه دې معاف وي.
۲ـ صفوي لښکر دې کندهار ته نه راځي.
۳ـ پاچاهي دې د عبدالعزیز په کورنۍ کې دوام و لري.

کله چې افغانان د ده له دې ناوړه کار څخه خبر سول نو څلوېښت زره نفره د میرویس خان د مشر زوی محمود سره یو ځای سول او عبدالعزیز ئې له منځه یوووړ ۱۱۲۹ هـ ق یا ۱۷۱۶ م او شاه محمود ئې د پاچاهۍ پر تخت کښېناوه.

پوښتني:

۱ـ غلجي څوک دي؟
۲ـ هوتک څوک وو؟
۳ ـ میرویس خان د هوتک نومي سره څه اړیکي لرل؟
۴ـ ولي خلکو میرویس خان د قوم د مشر په توگه و ټاکه؟
۵ـ میرویس خان چې د قوم مشر سو نو کوم مهم کارونه ئې و کړه؟
۶ـ میرویس خان چې غلجي وو د ده د مناسبات د ابدالي قوم سره څرنگه وه؟
۷ـ د میرویس خان تر مرگ وروسته څه پېښه سوه؟
۸ـ هغه څوک چې تر میرویس خان وروسته پاچا سو څه یې و کړه؟
۹ـ ولي خلکو عبدالعزیز خان مړ کړ او پر ځای ئې شاه محمود منځ ته را ووست

# د شاه محمود پاچاهي

۱۷۱۷ ـ ۱۷۲۵ م



هوتکي شاه محمود

شاه محمود د حاجي میرویس خان زوی وو . د پلار تر مرګ وروسته او د خپل تره عبدالعزیز خان د له منځه تلو وروسته پاچا سو .

په دغه وخت کي چي شاه محمود په کندهار کي پاچا کیږي ابدالي عبدالله خان په هرات کي د قوم په مرسته د صفوي دولت کمبله ور ټولوي . د عبدالله خان ځوان زوی د هرات د شاو خوا څخه د صفویانو تر شړلو وروسته پر فراه باندي حمله و کړه او هغه ځای ئې و نیوی . شاه محمود د کندهار څخه حرکت ور کوي ، اسدالله د جنګ په میدان کي له منځه وړي او بیرته کندهار ته را ځي ۱۷۱۹ م .

ابدالي عبدالله خان په هرات کي د قوم د مشرتوب څخه لاس اخلي او د هرات چاري بیرته د خانانو لاسته ور ځي شاه محمود هم د خپل پلار میرویس خان په شان د ډیري مېړاني خاوند وو . ده هم د پلار په شان د خپل ملي حکومت د پراختیا لپاره د فراه او سیستان له لاري د صفوي دولت په خاوره کي پر کرمان لښکر کښبي وکړه . د هغه ځای د حاکم لطف علي سره تر جوړېدو وروسته بیرته کندهار ته راغی .




دا ځل ئې په ۱۱۳۴ هـ ق کال کي د پښتنو ، ازبکانو ، هزاروو او تاجکو څخه په ګډه نوی لښکر برابر کړ او د صفوي دولت پر پایتخت اصفهان ورغی او هغه ښار ئې کلابند کړ . دا چي د اصفهان خلک د صفوي شاه حسین له ظلم څخه د ده د ۳۱ کالو پاچاهۍ په وخت کي په تنګ راغلي ول نو ئې د صفوي شاه حسین سره مرسته و نه کړه .

پسله ۸ میاشتو محاصرې څخه د صفوي دولت اخرنی پاچا ځوان افغاني پاچا شاه محمود ته تسلیم او د ده حضور ته را غی . شاه محمود د صفوي شاه حسین سره په ښه شان کړنه و کړه . خو هغه هم خپل خول (تاج) او تخت شاه محمود ته و سپارل او پایتخت ئې افغاني بریالي لښکر ته پرېښود (۱۱۳۵ هـ ق ـ ۱۷۲۲ م) .

شاه محمود د اصفهان تر نیولو وروسته د خپلو لویو قومندانانو لکه سیدال خان ناصري، پیر محمد میاجي ، محمد خان او عبدالله خان بلوخ په مرسته ډیري لښکر کښۍ و کړلې.

د شاه محمود روغتیایي حالت پسله ډیرو جنګونو او مشکلاتو څخه خراب سو څو په اخر کي فلج او په بستر کي و لوېد .

په (۱۱۳۷ هـ ـ ۱۷۲۵م) کال کي د ور پیښبي سوي ناروغۍ له امله د ۲۸ کالو په عمر مړ سو.

پدې وخت کي داسي اوازې را پورته سوې چي شاه اشرف د خپل پلار عبدالعزیز د انتقام د اخیستلو په خاطر شاه محمود وژلی دئ. کله چي دغه اوازه کندهار ته را و رسېده نو شاه حسین چي د کندهار والي وو د شاه اشرف سره چي د ده د تره (اکا) زوی وو دښمني پیدا کړه. تر دې وروسته ئې د شاه محمود پر ځای خپله پاچاهي اعلان کړه. د دې ځایه د غلجیو په کورنۍ کي بې اتفاقي را پیدا سوه او کندهار د ایران د هوتکي دولت څخه جلا سو.

پوښتني :

۱ ـ شاه محمود ولي د ابدالي عبدالله خان زوی اسدالله و واژه ؟
۲ ـ ابدالي عبدالله خان چي استعفا و کړه نو څه پېښه سوه ؟
۳ ـ کله چي شاه محمود پر اصفهان حمله کوله لومړی ئې څه و کړه؟
۴ ـ کله چي صفوي شاه حسین شاه محمود ته تسلیمېدی شاه محمود ولي د احترام په سترګه ور ته و کتل ؟
۵ ـ د شاه محمود تکړه قومندانان څوک وه ؟
۶ ـ شاه محمود ولي ناروغه سو ؟
۷ ـ د شاه محمود تر مرګ وروسته کومي اوازې را پورته سوې ؟

# د شاه اشرف پاچاهي

۱۲۲۵ ـ ۱۷۲۹ م

کله چي شاه محمود په اصفهان کي مړ سو ، شاه اشرف د یوي جرګې د جوړېدو په ترڅ کي په اصفهان کي پاچا سو . شاه اشرف د عبدالعزیز زوی او د حاجي میر ویس خان وراره وو . دی یو ډېر هوښیار سړی وو . د ده لوی افسران سیدال خان ناصري ، بابوجان بابی او ځیني نور وه .



هوتکي شاه اشرف

شاه اشرف چي کله د اصفهان پر تخت کښېنوست ژر و پوهېدی چي افغاني دولت په اصفهان کي له ډېرو ستونزو سره مخامخ دئ .

دا ځکه چي په دغه وخت کي د صفوي شاه حسین زوی طهماسب کوم چي د شاه محمود په وخت کي په تېښته بريالی سوی وو د ایران ملت ته خپله پاچاهي اعلان کړې وه . خو دا چي ملت د صفوي دولت له کړنو څخه ښه زړه نه درلود نو ئې د ده چندان ملا تړ و نه کړ .

طهماسب په اصفهان کي د افغاني دولت د له منځه وړلو لپاره د ترکیې او روسیې له دولتونو څخه مرسته و غوښته . د دې غوښتني د سر ته رسېدو لپاره ئې د خپل پلرني هیواد ډېري مځکي د ځاني ملک او مال په توګه دوی ته وړاندي کړلې .

اوس نو شاه اشرف په اصفهان کي د غرب او شمال له خوا د وخت د دوو لويو قوتو لکه عثماني ترکیې او روسیې له تهدید سره مخامخ وو .

## د شاه اشرف ستونزې :

۱ـ شاه اشرف په ختیځ کي د افغاني قواوو له خوا هم د مرستي امید نه در لود . ځکه د هرات ابدالي حکومت خو له پخوا څخه لا د هوتکي دولت سره قومي مخالفت لاره :

۲ـ د کندهار هوتکي دولت د شاه اشرف سره د شاه محمود د مړيني پر سر دښمني لرله .

۳ـ په اصفهان کي د هوتکي دولت په منځ کي هم خپل منځي مخالفتونه را پیدا سوي وه .

۴ـ د اصفهان خلک د شاه محمود د ډېري سختۍ په سبب نا راضه وه .

۵ـ د غلجیو قومونو مشرانو هم کوم چي د شاه محمود پلویان ول شاه اشرف پرېښود او

افغانستان ته ولاړل.
۶ـ شاه اشرف سردار امان‌الله چي د ده د دربار یو لوی سړی او د ده خپل هم وو د طهماسب سره د اړیکو په درلودلو شکمن باله او هغه ئې و واژه. د شاه اشرف دا کار د غلجیو د قوم د زیات نا رضایت سبب و ګرځېد.

سربېره پر دې ټولو ستونزو شاه اشرف لاس او پښه نه سو او دا لاندې کارونه ئې و کړل:
۱ـ د شاه محمود د وخت نا راضیان او د وژل سوو خلکو د کورنیو غړي ئې دلاسا کړل.
۲ـ د صفوي شاه حسین د کورنۍ د وژل سوو غړو مړي ئې بیرته په عزت او احترام ښخ کړل.
۳ـ ایراني کار پوهان ئې په دولت کې مقرر کړل.
۴ـ د خلکو سره ئې د مهربانۍ له لارې چلند را واخیست.

شاه اشرف له ترکانو سره په نرمي خبري و کړلې او له هغو څخه ئې د ایران د ځمکو د پرېښودو غوښتنه و کړه. هغو نه یوازې د ده غوښتنه و نه منله بلکي د شاه اشرف څخه ئې له ایران څخه د وتلو غوښتنه و کړه. شاه اشرف له ترکانو سره جنګ و کړ. د دې جنګ په نتیجه کې ئې ترکانو ته ماته ور کړه او ترکانو د شاه اشرف سره جوړه و کړه ۱۷۲۸ م.
روسانو د ترکانو د ماتې په نتیجه کې د شاه اشرف سره جوړه و کړه او د ایران ځمکې ئې ده ته پرېښودلې ۱۷۲۹ م.

په دغه وخت کې نادر افشار چي د طهماسب یو لوی افسر وو پر شاه اشرف فشار را ووړ. شاه اشرف چي خپل زیات شمېر عسکر ئې د ایران په جنګو کې له لاسه ور کړي ول، ایراني او کوردي عسکر ئې په لښکر کې مقرر کړل. ایراني او کوردي عسکرو د نادر افشار سره جنګ نه کاوه. څکه نو شاه اشرف و نه کولای سوای چي د نادر افشار مخه و نیسي نو ئې مخ پر افغانستان و نیوی. په افغانستان کې د شاه‌حسین د یوه قومندان له خوا شاه اشرف له منځه یووړه سو ۱۷۲۹م.

**پوښتني:**

۱ـ د شاه اشرف څخه ولې خپل قوم (غلجي) نا راضه سول؟
۲ـ شاه اشرف چي په اصفهان کې پاچا سو لومړی ئې څه و کړه؟
۳ـ شاه طهماسب د افغاني دولت د له منځه وړو لپاره څه و کړه؟
۴ـ د شاه اشرف ستونزې څه شی وې؟
۵ـ د شاه اشرف، ترکانو او روسانو تر منځ څه پېښه سوه؟

# د شاه حسین پاچاهي

۱۱۳۵ـ ۱۱۴۹ هـ یا ۱۷۳۶ م



هوتکي شاه حسین

په کندهار کي چي د هوتکي پاچاهۍ مرکز وو د حاجي میرویس خان کشر زوی شاه حسین پاته وو. کله چي شاه محمود د اصفهان پر لور لښکر کښي وکړه او هغه ځای ئې و نیوی (۱۱۳۵ هـ ق) نو د کندهار چاري ئې شاه حسین ته پرې ښودلې. شاه حسین یو علم پالونکی پاچا وو. د ده دوره په لومړي سر کي ډېره په ارامي تېره سوه دربار ئې له پوهانو، شاعرانو او د ادب له خاوندانو ډک وو. د ده په غوښتنه د ده په دربار کي پټه خزانه د محمد هوتک له خوا و لیکل سوه. پټه خزانه د پښتو ژبي د شاعرانو د معرفي کولو لپاره یو لوی شهکار دئ. د ده پاچاهۍ تر (۱۱۴۹ هـ یا ۱۷۳۶ م) پوري دوام و کړ.

کله چي شاه اشرف اصفهان له لاسه ورکړ د ایران چاري صفوي شاه طهماسب ته په لاس ورغلې. د هغه ملګري نادر افشار لومړی پر بست حمله و کړه او د ګرشک خوا ته ئې حرکت و کړ. شاه حسین و کولای سوه چي د نادر افشار لښکر له هغه ځایه و باسي.

نادر افشار د دې ځلي په ۱۷۳۷ م کال کي له ډېر قوي لښکر سره د ګرشک پر لور راغی. هغه ځای ئې و نیوی او مخ پر کندهار را رهي سو. کله چي د نادر افشار قواوي کندهار ته را ورسېدلې په حملو ئې پیل و کړ. د کندهار خلکو به د شپې له خوا د نادر افشار پر لښکرو حملې کولې. نادر افشار د شیر سرخ کلي ته ځان و رساوه.

له هغه ځای څخه ئې د یوه ښار په جوړولو پیل و کړ. لومړی ئې د ښار پر شا و خوا د یوې کلا (دېوال) په جوړولو پیل و کړ.

اوس ئې نو په کندهار کي د شاه حسین پر کلا باندي حمله و کړه. شاه حسین یو کال او څو میاشتي دفاع وکړه. تر ډېر مقاومت وروسته شاه حسین نادر افشار ته په ۱۷۳۸م کي تسلیم سو او د هوتکي پاچاهانو دوره پر دې ځای پای ته و رسېده. نادر افشار شاه حسین مازندران ته واستاوه او داسي ویل کیږي چي هلته ئې په زهرو مړ کړ.

هوتکيان :

| | |
|---|---|
| ۱ ـ ميرويس خان د ښالم خان زوی | (۱۱۱۹ ـ ۱۱۲۷ هـ ق) |
| ۲ ـ عبدالعزيز خان د ښالم خان زوی | (۱۱۲۷ ـ ۱۱۲۹ هـق) |
| ۳ ـ شاه محمود د ميرويس خان زوی | (۱۱۲۹ ـ ۱۱۳۷ هـق) |
| ۴ ـ شاه اشرف د عبدالعزيز زوی | (۱۱۳۷ ـ ۱۱۴۲ هـق) |
| ۵ ـ شاه حسين د ميرويس خان زوی | (۱۱۳۵ ـ ۱۱۵۰ هـق) |

پوښتني :

۱ ـ شاه حسين د پښتو د ادب په برخه کي کوم کارونه و کړه ؟
۲ ـ نادر افشار لومړی ځل د افغانستان پر کومو منطقو حمله و کړه او نتيجه ئي څه وه ؟
۳ ـ د نادر افشار دوهم ځل حمله څرنګه پيل سوه او نتيجه ئي څه وه ؟
۴ ـ شاه حسين د څومره مودي لپاره مقاومت و کړ ، کله چي نادر افشار ته تسليم سو نو څه پېښه سوه ؟

عبدالعلي رسولزاده
Malmö Sweden
alirasulzada@hotmail.com
0046709384755